مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالهادي هادي

۲۰۲۴/۰۳/۲۹

# فتحو خراب کړي يو

فتحو خراب کړي يو او ماتو خراب کړي يو
مونږ ياره دا خپلو خواهشاتو خراب کړي يو

چاته به په جنګ کې زمونږ د ماتې کيسه نه وي ياد
هر ځلې دښمن په دې ماديا تو خراب کړي يو

بس چې د تقدير د بدليدو تکل مو کړی دی
خپلو اورنيو احساساتو خراب کړي يو

مونږ چې کله هم چاته د کور لارې پرانيستي دي
ځينو تباه کړي يو او زياتو خراب کړي يو

نورو ته دښمن په نيرنګونو بلا جوړه کړي
مونږ خو د دې خپل کاله حالاتو خراب کړي يو

اوس به مو وختي د تمدن برجونه جوړ وو خو
هر ځل يو څو خامو بې احتياطو خراب کړي يو

ښنګه مو هادي په تشو لاسو، سوبه وکړله!
ښنګه اوس د نورو امکاناتو خراب کړي يو!




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ